unicef | for every child

*خبرپاڼه*

# جاپان په افغانستان کې د ۱۶۵ ښوونځیو د زیربنا د ښه کولو لپاره ۲۵ میلیونه ډالره مرسته کوي

**کابل، سپتمبر ۵ مه، ۲۰۲۳-** جاپان حکومت او یونیسف په ټول افغانستان کې د ۱۶۵ لومړنیو ښوونځیو د جوړولو او بیارغولو لپاره یو بل ته د ملګرتیا لاس ورکړی دی چې کابو ۳۳،۰۰۰ ماشومانو ته به د زده کړو خوندي فضا برابره کړي. د ۲۵ میلیونه ډالرو په ارزښت دغه پروژه کې د درسي ټولګیو، تشنابونو، د لاس مینځلو اسانتیاوې او د احاطې دیوالونو جوړول او بیارغول شامل دي.

په افغانستان کې د جاپان سفیرښاغلی تاکاشي اوکادا وایي، «هر ماشوم حق لري چې ښوونځي ته لاړ شي او په خوندي چاپیریالونو کې زده کړې وکړي. جاپان د درسي ټولګیو او د اوبو او روغتیا ساتنې د اسانتیاوو د جوړولو او بیارغونې له لارې په ښوونځیو کې د افغان نجونو او هلکانو د زده کړو او ودې ملاتړ کوي.»

په افغانستان کې لږ تر لږه نیمایي دولتي ښوونځي بسنده درسي ټولګي او ۵۸ سلنه یې د څښاک پاکې اوبه او د لاسونو مینځلو ځایونه نه لري. په منځنۍ کچه د ۲۴۹ زده کوونکو لپاره یوازې یو فعال تشناب شته دی. یوازې ۴۷ سلنه ښوونځي د احاطې دیوالونه لري. د ښوونځیو حدود اړین دي ځکه د دیوالونو په مرسته احاطه شوي ښوونځي د کورنیو لخوا ډاډمن ګڼل کېږي او دا چاره په ځانګړي ډول ښوونځیو ته د نجونو راتګ ښه کوي.

په افغانستان کې د یونیسف استازی فران اکیثا وایي، « کله چې درسي ټولګي د ماشومانو په خوښه او ډاډمن وي، ماشومان زده کړو ته هڅول کېږي او په ښوونځیو کې د شمولیت، حاضرۍ او فراغت کچه لوړیږي. د جاپان حکومت او خلکو ملاتړ، داسې مهال چې افغان ماشومان د خپلو زده کړو په برخه کې له ګنو خنډونو سره مخ دي، خورا ارزښتمن دی.»

دغه پروژه به د ملګرو ملتونو له پراختیايي پروګرام (UNDP) سره د پراخې ملګرتیا د یوې برخې په توګه د ټولنو او رغنیزو متخصصینو په مرسته پلان، ډیزاین او پلي شي ترڅو یې کیفیت، پایښت، او د مناسبو توکو او تخنیکونو کارونه په ځانګړي ډول په هغو ځایونو کې ډاډمن شي چې د زلزلو، سیلابونو او نورو پېښو له خطر سره مخ دي.

د نورو نوښتونو تر څنګ جاپان په تېرو درېیو کلونو کې د اوبو رسولو، په ښوونځیو کې د روغتیا ساتنې او حفظ الصحې او د ښوونکو د روزنې په پروګرامونو کې د پانګونې له لارې له افغان ماشومانو پیاوړی او تلپاتې ملاتړ څرګند کړی دی. جاپان حکومت دغه راز د اوبو او روغتیا ساتنې د اسانتیاوو په جوړولو، د واکسینونو په پیرلو، د ماشومانو د تغذیې په ښه کولو او په ټول هېواد کې د ماشومانو لپاره د یوه خوندي چاپېریال په برابرولو کې د یونیسف ملاتړ کړی دی.

**د نورو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړیکه ونیسئ:**

سلام الجنابی، یونیسف افغانستان، +93 79 998 7111 sabdulmunem@unicef.org